## په Thorncliffe Park کې نوی اسلامي مرکز

د Ontario Line پروژې د یوې برخې په توګه، د ټورنټو اسلامي ټولنه ( Islamic Society of Toronto، IST) او Metrolinx په ګډه سره کار کوي چې په 20 Overlea Boulevard کې یوه موجوده ودانۍ په Thorncliffe Park کې پر یوه اسلامي مرکز واړوي.

دا مرکز به لاندې برخې ولري:

- په 4 Thorncliffe Park Drive کې به د IST له اوسني مرکز څخه پنځه برابره زیاته ساحه ولري چې له مخ پر زیاتېدونکې ټولنې څخه ملاتړ وکړي؛
- د ځوانانو د فعالیتونو، نوي جمنازیوم او تعلیمي پروګرامونو لپاره یو شمېر اسانتیاوې؛
- د ښځو لپاره د لمانځه ښه او غوره ځای؛
- داسې آسانتیاوې چې پر بنسټ به یې په لومړي ځل به جومات وکړلای شي چې په Thorncliffe Park ټولنه کې په اسلامي طریقه د جنازې مراسم وړاندې کړي؛

دا نوی مرکز د یوه نوي او پراخه مرکز لپاره د ټورنټو اسلامي مرکز لیدلوری درک کوي چې په Thorncliffe Park او Flemingdon Parkکې ټولنو ته خدمت وړاندې وکړي؛ دغه مرکز به د Ontario Line میټرو له Thorncliffe  تمځي څخه یو څو ګامه لرې وي.

## د Ontario Line په اړه لنډ معلومات:

- د Ontario Line 15.6 کیلومتره اوږد د 14 تمځایونو درلودونکي د میټرو کرښه ده چې له Exhibition Place څخه پیلېږي، د ښار له زړه څخه تېرېږي او تر Ontario Science Centre (انتاریو د ساینس مرکز) پورې رسېږي؛ دا په Thorncliffe Park او Flemingdon Park کې هم تمځایونه لري.

- د Ontario Line د [مراقبت او ساتنې مرکز،](#) چېرته چې رېل ګاډي درېږي او ساتنه ترې کېږي تر څو زموږ د پېرودونکو لپاره پاک او خوندي شي، به د Thorncliffe Park په هغه ساحه کې وي چې د IST اوسنی مرکز پکې واقع دی. د Ontario Line پروژه چې تکمیل شي، نو ټولنې ته به ورسره 300 نوې دندې راوړي.
- د Ontario Line به د Thorncliffe Park او ټورنټو ښار زړه ترمنځ واټن به 15 دقیقو ته را ټیټ کړي. دا به همدارنګه خلک په ټول ښار کې په موجوده ټرانزیټ کرښو کې له ګڼې ګونې څخه خلاص کړي، د دې لپاره دا کرښه تر 40 زیاتو د سفر له انتخابونو سره وصل ده؛ د GO سیمه ریل ګاډو، موجوده میټرو ګانو، Eglinton Crosstown LRT، او محلي بس او برېښنایي بسونو د کرښو په ګډون.
- تر 2041 پورې به Thorncliffe تمځی:
  - 12,800 خلک به د ترانزیت لپاره راوړي؛
  - تقریباً 3,100 خلک د سفر تر ټولو بوخت ساعت کې له دغه تمځي څخه تېر شي (2,100 به د Ontario Line ته پورته کېږي او 1,100 به ترې ښکته کېږي)، په دوی کې به 500 تنه داسې وي چې یا به له دغه تمځي څخه نورو کرښو ته ځي یا به هم له نورو کرښو څخه دغه تمځي ته را انتقالیږي.
  - په سیمه کې به 3,000 دندو سره خلک وصل کړي.